# زېړی

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده    د تأسيس کال ١٣١٦ هجري شمسي

يکشنبه، (١٧- ١٨مه) ګڼه، درېيمه دوره، پرله‌پسې (٣٦١- ٣٦٢مه) ګڼه، د ١٣٩٩ل.کال د قوس (لیندۍ) د میاشتې ٣٠مه، د ١۴۴٢هـ.ق. کال، د جماديالاول د مياشتې ۵مه او د ٢٠٢٠ز.کال، د ډسمبر ٢٠مه.


د سـړي چـې خـوی د کـس وي
اشـــارت ورلـــره بـــس وي
کــه لــوی غـر وي د پندونــو
و نـاکس تـه لـږ تـر خـس وي

اشرف خان هجري

## د پښتو ژبې يو هېر ليکوال
## ((محمد اکبر پامير))

**څېړنپوه ظاهره هنګامه**

زموږ په تېر فرهنګي بهير کې د پښتو ژبې د ودې او پرمختګ لپاره هر ليکوال او شاعر د خپل توان په کچه کار کړی دی، چې د دغو شاعرانو او ليکوالو له ډلې د معاصرې دورې يو تکړه ليکوال، شاعر او ژورناليست محمد اکبر پامير دی.

محمد اکبر پامير په ١٢٨٩ل کال د ننګرهار ولايت د کامې ولسوالۍ د سنګر سرای په کلي کې په يوې بې وزلې کورنۍ د ښاغلي بهاوالدين کره نړۍ ته سترګې وغړولې. ديني زده‌کړې يې د خپل کلي په جومات کې پيل کړې، په درېيم ټولګي کې و، چې د ښه استعداد او وړتيا له کبله کابل ته وغوښتل شو او د غازي امان الله خان د حکومت له خوا له ځينو نورو افغانانو سره يو ځای د زده کړو لپاره ترکيې هېواد ته ولېږل شو، نوموړي په ترکيه کې د حقوقو په څانګه کې زده‌کړې وکړې او د لسانس له اخيستلو وروسته هېواد ته راستون شو او د حقوقو په پوهنځي کې يې د استاد په توګه دنده پيل کړه.

محمد اکبر پامير سربېره پر دې چې د حقوقو په برخه کې ډېر آثار ليکلي، تر څنګ يې ادبي آثار هم کښلي دي او هم يې شاعري کړې ده، دا يو منلی واقعيت او حقيقت دی چې د يوې ټولنې واقعي ليکوال او شاعران د هغې ټولنې د دردونو او غوښتنو ترجمان وي او د ټولنې دردمن او خواخوږي ليکوال او شاعر تل د خپلې ټولنې د دردونو د درملنې لپاره ډېر زحمت ګالي او ډېرې ستونزې پر ځان مني، ده د



يوه دردمن او خواخوږي ليکوال او شاعر په توګه ډېرې ګټورې ليکنې خپلو خلکو ته وړاندې کړې دي. (١)

استاد د هېواد په رسمي ژبو پښتو او دري سربېره په ترکي، انګليسي او فرانسوي ژبو پوهېدو او د يو رسالتمند ليکوال او شاعر په توګه په اجتماعي، سياسي او حقوقي برخو کې ډېر علمي مستقل آثار ليکلي او خپاره کړي دي؛ لکه

١- پښتونستان حق دی
٢- حقوق اساسي
٣- معلومات مدني براى همه
۴- حقوق جزاء
۵- دولت و نظريات حقوقي

سربېره پر دغو ځانګړو آثارو د هېواد په مطبوعاتو، مجلو او اخبارونو کې يې زياتې ليکلې او ژباړلې مقالې چاپ شوې دي.

استاد د هنري ادبياتو په پنځونه کې هم له عالي ذوق او استعداد نه برخمن و، په پښتو او دري ژبو يې ډېرې ډرامې ليکلې دي چې د هغه وخت په تياتر کې ننداري ته وړاندې کېدې؛ لکه مجنون، ديوانه، ګڼدم، درخت انجير (ژباړه) او داسې نورې د يا دونې وړ دي. دغه ډرامې اوس موجودې نه دي، ځکه چې د ده زياتره ډرامې په تياتر کې د سټېج پر سر په ژوندۍ بڼه ننداري ته وړاندې کېدې او په مطبوعاتو کې نه دي چاپ شوي، يواځې د ده يوه ډرامه د (بندي) په نوم چې په منظومه بڼه ليکل شوې استاد ښنوا په خپل کتاب اوسني ليکوال کې راوړې ده. ( ٢)

«بندي» يوه انتقادي او انتباهي ډرامه ده، چې په ١٣٢٨ لمريز کال کې د کابل راډيو څخه په پښتونستان خپرونه کې خپره شوې وه، دا ډرامه په پښتنو او بلوڅو باندې د برتانوي استعمار ظلمونه او نادودې ښرګندوي.

استاد پامير د ليکوالۍ او شاعرۍ سره بې شانه مينه درلوده، استاد د ټولنې او خلکو شاعر و، د ده شاعري د ژوند، د دردونو او انځورنو شاعري وه، د ده د شاعرۍ ټولې خواوې ملي رنګ لري؛ شاعري يې دومره قوت او جذبات لري چې د لوستونکي زړه ته قوت او توان ورکوي.

«د ارواښاد محمد اکبر پامير د خواږه، روان او د نوي ټولنيز شعر ډېرې رنګينې را ځلېدلې او ارزښتمنې هنري دُردانې، ٣مخ

## ادب؛ د ژوند د بدلون وسيله



**څېړندوی حضرت اغا همدرد**

ټولنپوهان وايي: ((د ټولنيزي لاربښوونې تر ټولو بنسټيز کار بدلون دی، که چېرته د ټولنې په يو برخه کې بدلون راشي، نو کولی شو چې دا بدلون په هر ځای کې پلي کړو)).(١)

د وګړو تـرمنځ تړلــې اړيکــې او غږيـز ډيلاګونه ښايي د انساني ټولنې د ښه بدلون لپاره حېرانوونکي پايلې ولري. د ادب ښېګڼه همدا ده چې د خپل هنري پيبل (ترتيب) او پوهېدنې په هر پړاو کې د ټولنيز بدلون لپاره هيڅکله د زور او ځواک لامل کېږي نـه، خـو له ټولنيز شعور سره د ټولو تړلو چارو فکـري، علمــي، تهـذيبي او کلتـوري حقيقتونـو د خوځښت چاره تـرسره کـوي او دا پـه ګوتـه کـوي چــې د ټولنـيزې تـنې يـا جوړښـت د ځواک او د ودې د پرمختيا لپاره بـې موخـې ساعت‌تېرى له ژونده تېښته ده او دا چـاره د ليکوالو په ليکنه، د تجربو په شننه، د فکـري دليلونـو پـه خپرونـه او د خيـال پـه تکتيـک ترسره کـېږي. د ليکـوال پـه ذهـن کـې ولاړ احساسات او فکري شور د ادب په بڼې کـې د تجربـو پـر مټ پخـېږي او د ژبـې غږيـز سيستم يې د خپراوي چاره ترسره کوي. ادب د ټولنيز ژوند لپـاره د وګړو د شعور روش د پرمختيا طرحـه او نقـشه بـاسي او د ژونـد د لوړو ژورو په يانه کې سمې لارې ټاکي، نه دا چې زور او ځواک په کار واچوي او له انساني ژوند سره تکتيکي لوبه وکړي، ځکه دا د ژوند لپاره ګواښ دی.

ادب د پنځونې، څېړنې او د نظر د شـننې په بهير کـې رامنځتـه کـېږي او وده يـې پـه ټولنه کې شونې ده، ځکـه دلتـه د پنځونـې، څېړنې او د نظر د شننې چاپېريال برابرېږي. چېرته چـې د انسان لـه لوړتيـا سره- سره د انساني کلتور بنسټيزې ځانګړنې وپالـل شي يــا د ګنتړګـراس پــه وينـا د انسـاني حقوقـو احــترام او ســاتنه شــونې وي، برابرښــت، يووالـی، منښت او لـه يـو بـل سره د اړيکـو سلسله قايمه وي؛ نو د ويونکي او اورېدونکي تر منځ اړيکه وتړل شي، په کلمو پټ معنويت محســوس شي، د لارښـــوونې او برابـــري ډيالوګ رامنځ ته شي؛ هلته ادب د ټولـنې د وګړو د يووالي او برياليتوب د چارو واګــې پـه خپله اخلي. استاد احمـد شاه زغـم ليکـي: ((د بشريت اوسـنۍ مـدني لوړتيـا د هغـو د نيک او غوره فکر محصول ده او فکـر د ښـې وينا او ليکوالۍ له برکته وده او پرمختـګ تـر لاسه کوي. هغه هېواد او هغه خلک متمـدن ګڼل کېږي چې پـه خپلـه ټولنـه او فرهنـګ پورې اړوند شيان خوندي کړي.)) (٢).

د نورو له نظرونـو، خيـالونو او تيوريـو سره ټکر هم شته، خو پـه ټولنـه کـې د دې ټکـر رامنځته کېدل د يوه نظام د ماتېدو ښېلګه نـه بلل کـېږي، بلکـې د لا ټينګښت زېـري لـه ځانه سره راوړی شي، دې چارې پـه سلګونو کالو ببل اروپايي نظامونه نـن سره يـو ځـای کړي دي، خو نه شتون يې د اسيايي ملکونـو چاپېريال او نظـام زمـوږ سترګو تـه ودروي، چې د بې اعتمادۍ پـه دوړو کـې الـوت يــې نظرونه تـړلي او د ټکرونـو لـه املـه يــې ډېـر وجودونه بې روحه په ډګر راغورځېږي. ايا لـه ادبياتو ګټه اخيستل کېږي؟ هـو! خـو د دې لپاره د پنځونو د صلاحيتونو، ارادې او جرأت اړيـن دی. کـه د نـړۍ پـر ځينـو پيکـه او کرغېړنو رنګونو؛ لکه نـاوړه خيـالاتو، عقايـدو، ژبني تعصب، کلتوري زور- زياتي، د تاريخ او جغرافيې د بې ځايه ننګ او غيرت پـه تاريخ وويشل شي، نو په کائناتو کې به مو ژوند لنډ يا نيمګړی وي او پـه حقيقت کـې بـه مـو د ماتېدنې چاره ترسره کړې وي.

ځينې خلک ولې لوړ يادېږي او د نظرياتـو تاريخ يې تسلسل پيدا کوي او ځيـنې ولـې د بــې زړه تــوب، نــااهلتوب، د ډار او وېـرې سيمبولونه ګرځول کېږي؟ علت او سبب يــې په ټولنه کې د ژوند تېرول دي چې انسان په بېلابېلو ځـايونو کېنـوي. شتمن، ځمکـوال، ټيټ رتبه، بې وزلـه، د بـل ډوډۍ تـه ناست وږي او تر شـنه اسمان لانـدې غرمـو وهـلي انساني هډونه په ښارونو او کليو کې په نظـر راځي، ټول د انسانيت په نـوم نومـول شـوي چوکـاټ کـې راځـي، خـو دا توپـير ولـې او څنګـه؟ نـابرابري، ظلـم، لـه مظلـوم سره نـه مرسته، د ټولنيز شعور نه لرل يې ځـواب دی چې د حل لپاره يـې چا داسې غږ نـه دی پورتــه کــړی چـــې دا ډول بادشــاهۍ او ځمکوالۍ دې ورکې شي او د نورو د پرمختيا هڅـه دې وشي. پوهـېږئ چـې دا چـاره پـه سرمايه او پيسو نـه کـېږي، وړيـا ده او هغـه دومره کوښښ، هڅـه او هلـې ځلـې غـواړي چې د انسانانو په فکرونو کار وشي او د هغـو شعور دې رابېدار شي او دا زور د اديب يـا د ليکوال او شاعر د قلم په کلمو کې شته.

عاطفه، احساس، فکر او تخيـل هغـه څـه دي چې د داسې شعور په راوستلو کې سـتر چوپړ ترسره کوي او دا ضمانت ورکـوي چـې دا چاره به بريالې وي، هيڅ داسې پرمختللې ټولنه به نه وي چې د ادبياتو له دې ٣مخ

## د مقالې ليکلو لارې چارې

**درېيمه برخه**




**ليکواله: مېرمن رياحي**

**څېړنيار فضل الرحمن عليزى**

ژباړه


**غوره څېړنه:** د يوې ښې مقالې د ليکلو لپاره، مهمه ده چې د مقالې ټوليز جوړښت، د هرې برخې د ليکلو څرنګوالی او د برخو له کلي حجم سره پېژندګلوي پيدا او هغه په ښه ډول وپېژنو.

**دويم ګام: د يوې علمي مقالې ټوليز جوړښت**

ټولې علمي مجلې معلوم چوکاټ او فارمټ لري يا د ليکلو يو معلوم او ځانګړي سبک لري، نو هغه مقالې چې له همدغه فارمټ او چوکاټ سره برابرې وي، اړوند نشراتي اورګان ته د منلو وړ وي. دا د ليکلو يو سبک په ګوته کوي چې ستاسې مقاله بايد د کومو برخو لرونکې وي؟ د کلمو شمېر يې بايد څومره وي او د مأخذ ليکلو په ډول کې بايد د کوم ډول ريفرنس ليکلو پيروي وکړئ؟ حتى هغه جدلونه او انځورونه چې په يوه مقاله کې بايد ځای پر ځای شي، د هغې مجلې له اصولو سره سم وليکل شي، کومې مجلې ته چې تاسې غواړئ مقاله وليکئ او په هغې کې چاپ شي. البته ډېرى مقالې د يو معياري او سټنډرډ جوړښت لرونکي وي، چې وروسته به اشاره ورته وکړو.

**د يوې علمي مقالې جوړښت**

١ـ څرګند سرليک ولري.
٢ـ د ليکوال او يا هم د ليکوالو نومونه ليکل شوي وي.
٣ـ لنډيز ولري.
۴ـ کليدي ټکي را وړل شي.

۵ـ سريزه: دا برخه د يوې مقالې په سلو کې شل(٢٠) سلنه برخه بشپړوي.په دې برخه کې د مقالې ليکلو، د څېړنې په اړه مخکې تر سره شوو څېړنو، د مقالې د موضوع بيان، فرضيې او هدفونو يوه مفصله توضيح له ځان سره لري.

٦ـ اصلي متن: دا برخه د مقالې شاوخوا (٣٠) سلنه برخه جوړوي او له دې برخې څخه په ازمايښتي څېړنو کې، د ليکلو موخه، د ليکلو د طرز او لارې او د مطالعې تګلاره، د ګټې اخيستنې لارې چارې او په ټوله کې د هدفونو، فرضيو او يوې ځانګړې پايلې ته د رسېدلو لارې او بهير څارل کېږي.

٧ـ پايله: دا برخه د مقالې د ١۵ سلنه برخه جوړوي او د متن څخه ټولې لاسته را غلې پايلې په دې برخه کې را غونډېږي او لوستونکو ته لنډ نچوړ په لاس ورکوي.

٨ـ بحث او تر لاسه شوې پايله: دا برخه د مقالې ٢۵ سلنه برخه جوړوي او په دې برخه کې لاسته راغلې پايلې تر بحث او تحليل لاندې نيول کېږي او له تېرو تر سره شوو کارونو سره يې يوه پرتليزه مقايسه کېږي.

٩ـ سرچينې: دا برخه د مقالې ١٠ سلنه برخه په بر کې نيسي. البته د مقالې جوړښت او له يوې علمي څېړنيزې مقالې څخه د يوه را پور چمتو کول، د مقالې ليکلو په وخت کې د مقالې ليکلو او څېړلو تګلاره په پام کې نيولو سره توپير لري. په همدې خاطر په علومو کې دکارول شوو ډولونو يوه ټوليزه ډلبندي په پام کې ونيول شوه چې لاندې دوه ډلونه ولري.

الف) کمي څېړن‌ډولونه (ساحوي څېړنې)
ب) کيفي څېړن‌ډولونه(په دې ځای کې د کتابتوني څېړنو په معنا)
کمي او کيفي د څېړنې دوه ځانګړي ډولونه دي.

**د ساحوي څېړنې له مخې د يوې مقالې جوړښت**

د علومو د بېلابېلو څانګو د څېړنو په برخه کې ټوليز اصول او ميتودونو ته په کتلو سره له څېړنو څخه د يوه راپور چمتو کول او ډېرى يې په ځانګړي ډول کارول کېږي، چې هغه تر ډېره په يوه (علمي ميتود) باندې ولاړ وي. د انساني علومو په بېلابېلو برخو کې ځينې ليکل شوې مقالې د ((ساحوي څېړنې)) په ترڅ کې ليکل شوي او تر ډېره د انساني علومو په ټولو څانګو کې په لاندې توګه نسبتاً يو ټاکلی جوړښت لري چې په هغو کې سريزه، منځپانګه، پايله، بحث او مناقشه راځي. ٢مخ

| لنډه کیسه |

سید نظیم سیدي

# روشنګري

د چایو خیرنه پیاله یې خولې ته ونیوله، شړوپ شو ببرته یې کېښوده، یوه خوا او بله خوا یې وکتل، لاس یې وغځاوه، څه په لاس ورنغلل، زنګنونه یې ډډ کړل، پښو ته یې غونډوسکه پرته وه، پر بوټ یې وموښله، جلا یې پیدا کړه، بل بوټ یې را واخیست هغه یې هم جلا دار کړ، څنګ ته یې کېښودل، بیا یې له چایو شړوپ پورته کړ. سیوری یې مخې ته پیدا شو، لا یې سر پورته کړی نه و، چا ور ته لسګون نیولی و، په خندا یې خپلو بوټانو ته اشاره وکړه. په ډېر عزت یې پښو ته ور وړاندې کړل.

سړی روان شو، لا دوه ګامه تللی نه و چې چا ورته په تیزه وویل: وه کاکا کوڼ یې که څنګه؟

سړی مخ ور واړاوه، ځوانه نجلۍ ولاړه وه، خوله یې خبرې ته جوړوله چې نجلۍ په تېزه وویل:

- وه بابا، دا یو ساعت وشو درته ولاړه یم او ته پردیو تور سرو پسې ګورې، نه شرمېږې؟! هغه ښځه ستا د لور پر ځای ده او تا ورکې سترګې ګنډلې دي؟

بوډا حیران شو، نه پوهېده څوک ښيي او چا ته وايي؟

نجلۍ ته یې وویل: څه شوي لورې، چا ته وايې؟

نجلۍ په ملنډو خوله کږه کړه، لا یې ځان ناګاره کړی هم دی، چاا ته واایم، خو همدا تا ته وایم که نه؟

- نو ما څه....

- پرېږده بابا، لا خبرې هم کوې، زه وزګاره نه یم چې خپل وخت له تا سره ضایع کړم، هغه زما د مور بوټان دې څنګه کړل؟

کوم بوټان، ځای به دې غلط کړی وي!

ولې به ځای غلطوم، ځای خو تا غلط کړی چې ټوله ورځ پردیو تور سرو ته ګورې، هغه څنګ کې دې بوټان یادوم، سهار مې مور درته د دوره دوزۍ لپاره راوړي وو. خلاص شوي او که نه؟

خو زه خو تا نه پېژنم، څنګه یې درکړم، باید خپله خاونده یې راشي.

او بابا، تا هم کیسې شروع کړې، وخت مې مه ضایع کوه، بوټان راکوه.

نه یې درکوم، چې...

کاکا زرینه، ور یې کړه دا یې لور ده، زه یې پېژنم.

★★★

- دادا! ځو ځلې مې درته ویلي چې ډوډۍ ته کښېنې، نو لاسونه دې پر صابون مینځه، له خیرو او مکروبونو ډک دي، ولې هم ځان او هم مور ناروغان کوې!

- زویه خوارې مې پرې وکړه، خو د رنګ توروالی دی، په اسانۍ نه ځي.

- ولې نه ځي، خو ته هسې کیسې کوې، له کومې ورځې چې مې مور مړه شوې له هغې ورځې تا نه د خیرو ګوډۍ جوړ شوی. لږ دې نظافت ته خیال کوه، تر کومه به داسې یې، اخر موږ هم انسانان یو، ترڅو به ستا خیرې خورو؟

- وروره! روانپوهنه وايي کله چې انسان د خپل ژوند ملګرې له لاسه ورکړي، نو هغه تر ډېره د هغې غم نه شي هیرولای، په کار ده چې د ژوند د سمبالښت لپاره د ژوند ملګرې پیدا کړي.

- هو، همدا خبره کمه وه، اوس راته دا جنجال هم پیدا کړه، موږ د ده نه تنګ یو، ته راته بله بلا هم پیدا کړه. راشه که تودېږې.

- خو دا خبره زه نه، بلکې روانپوهنه وايي.

- که داسې کیسو پسې وګرځو، نو طب هم وايي، هر هغه څوک چې ځان نشي سمبالولی، نظافت ته خیال نه شي کولای، په حقیقت کې هغه د وایرسو زېرمه ده او د هغه له امله نږدې کسان یې ټول زیانمنېدلای شي.

- مګر روانپوهنه بیا دا خبره نه مني، هغه وايي؛ تاسې هیڅکله ناروغ او تجرید شوي انسانان یوازې مه پرېږدئ، ځکه ډېر امکان یې شته چې ځان ته زیان ورسوي او دا ټول به د یوازیتوب له امله وي.

- وروره! که دا ستا روانپوهنه همداسې وي، نو د ډېرو انسانانو او کورنیو ژوند به واخلي.

- زامنو! دا تاسې څه وایئ، زه ځان ته حیران یم او تاسې د بلې ښځې خبرې کوئ.

دادا! ته لږ غلی شه، نه ګورې موږ علمي بحث کوو او ته په کې خپلې بابولالې وایې، دا خو څه موچیتوب نه دی چې ستا نظر په کې واورو.

د بوډا سترګې له اوښکو ډکې شوې، د چایو پیاله ډکه پاتې شوه، نړور یې خاوند ته په عاجزۍ وویل، دادا خپه شو، وبال لري ولې ورسره داسې کوئ؟

- ته غلې شه، ته ساده بړیته په دې څه پوهېږې، اوس به مې تا او ستا دادا ته هم څه ویلي وي. دادا ځان ته کتلي او همداسې نږور یې پیدا کړې، ته وګوره له کوره د ګند ډیپو جوړ دی، زه نه پوهېږم تاسې به څه وخت په دې خبرو پوه شئ. له شرمه څوک کور ته رابللی نه شم، که هغوی زموږ د کور دا حالت وګوري، تا بې سواده بنګنه او دادا وګوري، نو څه به وایي؟

وایي به د زامنو پوهې ته یې وګوره او د کورنۍ دې کنډر حالت ته، عجیبه کورنۍ او عجیبه مخلوق؟!

ای هی نو دادا!

★★★

ټول محصلین ودرېدل، خو سپینږیري تشه څوکۍ لټوله، د صنف په اخر کې یې پر تشې څوکۍ سترګې ولګېدې د هغې پر لور روان شو، محصلینو پسې شا ته وکتل، ده څوکۍ سمه کړه او پرې کښېناست. لا هم ټولو ورته په شک کتل، خو ده په کتاب کې سترګې ښخې کړې وې.

محصلینو یو بل ته وکتل، ټول په خپلو ځایونو کې کښېناستل، هیچا نه د خبرو او نه د پوښتنې جرأت کاوه، په دې وخت کې بیا دروازه خلاصه شوه، یو نکټایي کړی ځوان را ننووت، ځینې له خپلو ځایونو پورته او ځینې لا ناست ول، سړي د کېناستلو وویل. پاتې محصلین هم یو دم را پورته او بېرته کښېناستل.

استاد په غوصه ټولو ته وکتل، څه یې ونه ویل، بوډا ته یې پام شو، اشاره یې وکړه. بوډا ودرېد، استاد وپوښت؛ ته هم په همدې ټولګي کې یې؟

- هو استاده.

- ښه خبره ده، په تعلیم کې شرم نه شته، ماهي چې هر وخت له اوبو ونیسې تازه وي.

استاد پر تختې ولیکل: د ژوند د ښکلاګانو او ښایستونو د سپېڅلي پنځګر په نوم.

لږه شېبه وروسته تخته پر تورو ډکه شوې وه، استاد د ادبیاتو پر ارزښت غږېده، د هغې بېلابېل اړخونه یې جوتول، ژوند ته یې له ښکلي او لطیف انداز نه کتل، د الفاظو جادو او د هنر مراندې یې را کاږلې، د محصلینو پر عواطفو او د بشري ژوند نزاکتونه یې پر ګلورینو الفاظو لمسول.

ادبیات یې د خبرو هنر، د ژوند د ښکلاګانو مزل، له شګو څخه د مرغلرو را ایستل، د لطیفو انسانانو د بغوري خال او د نارینه وو غبغب معرفي کاوه.

ټولګي کې مترنمه فضا رامنځته شوې وه، کوم کسان چې د کانکور د ړانده غشي پر اساس په ادب پوهنځي کې پرېوتي ول، پر دغه حافظ غونډارې یې د پښېمانې لیکې ببرته هواریدې.

استاد ډېره شېبه وغږېد په پای کې یې درسي کتابونه معرفي او له ټولګي ووت.

محصلین پر بوډا راټول شول، د شوخۍ تار یې را کاږه، پوه شول چې سړی د ګپ تومنه لري، نو یې بوډا مین بوډا وباله. په خبرو کې پوه شول چې بوډا ولې دومره درانه کار ته اوړه ورکړې، د هر ډول مرستو سینه یې ورته وډبوله.

بوډا نه په کار کې غیر حاضري کوله او نه هم په ټولګي کې، پر محصلینو سرببره یې د استادانو په زړه کې هم ځای پیدا کړ، تل یې د ادب او ټولنې، ادب او فلسفې، ادب او روانپوهنې او ادب او روشنګرۍ د اړیکو پر مسایلو ژورې خبرې کولې او د پوهنځي پر خپروني سرببره یې د هېواد په ځینو مشهورو ادبي خپرونو کې هم مقالې خپرېدلې.

★★★

ډاکټر ټلیفون ته وکتل د کور شمېره وه، بنده یې کړه، لږه شېبه وروسته بیا ټلیفون وګرنګېد، ډاکټر په غوصه اوکې کړ، څه خبره ده وه ښځې، چې زنګ مې بند کړ، پوه شه چې بوخت یم.

- ما ویل دادا ټینګار وکړ چې....

- دادا وزګار دی، موږ په څه کې یو او دادا په څه کې؟ ټلیفون یې بند کړ.

مور او زوی خواشیني کښېناستل، یو دم یې زوی چیغه کړه، یوه ایډیا!

مور یې وویل: څه، د څه شي لوبیا؟

- مورې لوبیا نه ایډیا، کاکا ته مې زنګ وهم، انجنیر کاکا او ډاکټر کاکا دواړه قانع کوم.

- خو که هغوی هم په غوصه شي؟

- ته ورته زنګ ووهه زه ورسره خبرې کوم.

- الو ډاکټر کاکا، زه یم نازولی.

- نازولی زویه څه خبره ده؟

- کاکا ما ویل دادا په ټینګه ویلي وو، خیر دی راشه چې هغه غونډې ته لاړ شو. دادا ویل د ملګرې زوی پرې ډېر ګران دی او زموږ د ورتللو وعده یې هم ورسره کړې، که لاړ نه شو دادا خپه کېږي، وبال لري، خیر دی ډاکټر کاکا.

- خو زوی زه ډېر بوخت یم.

- خیر دی کاکا، زه دربانډې ګران نه یم.

- ښه سمه ده، درغلم.

- کاکا مور ته مې هم وواېم، خیر دی، خیر دی، خیر دی.

- سمه ده، ورته ووایه نو.

- مننه زما بیوټي بوټیفول کاکا، کاکا یوه بله خبره.

- بیا څه شوي؟

- خیر پلار مې هم راضي کړه.

- خو که یې ونه مني؟

- خیر کاکا ته یې راضي کولای شې.

- زه به خپله هڅه وکړم.

- مور ژر کوه، ځان تیار کړه، هغوی راځي.

- فکر نه کوم.

- کاکا راسره وعده وکړه، زه باور لرم راځي.

ماشوم ډېره شېبه دروازې ته رډې سترګې نیولې وې. مور یې وویل هغوی نه راځي، خو ماشوم ډاډه و.

د دروازې زنګ ووهل شو، ماشوم منډه واخیسته، کاکا یې یوازې و، ماشوم یوه خوا او بله خوا وکتل، څوک یې ونه لیدل.

- پلار مې څه شو؟

- نازولی یې ښکل کړ، زما ګرانه نازولیه، هغوی هماغسې ځي موږ او تاسې به له دې ځایه لاړ شو.

خو...

خو مو نه شته، چې ومې ویل راځي، نو بیا راځي.

★★★

تالار له خلکو ډک و، تش ځای نه پیدا کېده، ماشوم یودم چیغه کړه، هاغه دی هاغه ځای خالي دی.

درې واړه هماغه خوا لاړل، ماشوم له بل مېز نه دوې نورې څوکۍ هم را وړاندې کړې، مور یې ورته وویل، هغوی نه راځي، خو ماشوم په هغوی پسې منډه اخیستې وه.

په سټېج خبرې روانې وې، چا خپلې خاطرې او چا هم د علم د ارزښت په اړه خبرې کولې. په دې وخت کې ویاند وویل، اوس د محصلینو په استازۍ یو داسې چا ته بلنه ورکوم چې زما په ګډون ډېرو ټولګیوالو ترې ډېر څه زده کړي، آن استادان هم ترې متاثره شوي، دا سړی د ادب، فلسفې، ټولنپوهنې، روانپوهنې او... پېژندل شوې څېره ده، له عمره پوخ، خو له زړه نه ځوان دی، دی به هم زموږ په استازۍ خبرې وکړي او هم به د روشنګرۍ په اړه خپل نظریات درسره شریک کړي.

محصلین ودرېدل، استادانو چکچکې کړې، په شور او غوغا کې څوک سټېج ته راغی، لږه شېبه وروسته د ټولو له سترګو اوښکې څڅېدلې.

سړي خپله اخرینۍ خبره هم وکړه: روشنګري دا نه ده چې ظاهر دې پاک، خو باطن دې له خیرو ډک وي، خپل دې دښمن، خو پردی دې د سترګور تور وي او... نو که سړی وغواړي هر وخت، په ښکاره او په پټه تعلیم کولای شي، خو د ټولنې حالاتو ته په کتلو زموږ د روشنګرۍ معیارونه هغه د شاعر خبره ده:

په زړه مهر په خوله قهر زویه ته بویه
څه ښه وایي چېرته ډب هلته ادب

ماشوم له موره وپوښتل: دا پلار او کاکا ګان مې ولې ژاړي؟

## د مقالې لیکلو...

**د توصیفي څېړنې له مخې د یوې مقالې جوړښت**

په توصیفي څېړنو کې کارول شوو اصولو او د کارېدلو میتودونو ته په کتلو سره او د بېلابېلو ساحوي څېړنو په پام کې نیولو سره یو له بله توپیر لري، خو بیا هم که په دې برخه کې د څېړنو بېلابېلو موضوعاتو او بېلابېلو څېړنیزو ځانګو ته هر څومره پاملرنه وکړو، له لږ ډېر بدلون سره سره د توصیفي څېړنو د چوکاټ جوړښت په لاندې ډول دی.

۱ـ سریزه

۲ـ د بحث مطرح کول (متن)

۳ـ اخیستل شوې پایله

**د کیفي څېړنو له مخې د یوې مقالې څرنګوالی**

له کیفي څېړنو څخه یوه ساده پېژندنه دا ده: ((هغه څېړنه چې په هغې کې تر لاسه شوې موندنې د شمېرو میتود له لارې او یا هم د نورو کمي جوړو وسایلو له مخې په لاس نه وي را غلې.)) اوسنۍ کیفي څېړنې د پایلو وړاندې کولو، شننې او معنا کولو ته په کتلو سر د ټولو لپاره د منلو وړ ګرځېدلې دي. د مفاهمې له مخې د څېړنو د ژوندۍ تجربې، هیجاناتو، احساساتو، ټولنیزو خوځښتونو، د ټولنې او افرادو ترمنځ د را کړې ورکړې، د ټولنیزو پدید د منځته را تګ او له منځ څخه د تګ لاملونو او دې ته ورته نورو ټولو موضوعاتو څېړلو ته په کې د څېړونکو لپاره زمینه برابروي؛ نو په دې ډول څېړنه کې تل پورته یاد شوي موضوعات څېړل کېږي او له څېړونکو سره د یادو څېزونو د څېړنې په برخه کې مرسته کولای شي او په دې اړه یوې پایلې ته رسېږي.

په ټولیز ډول هره کیفي څېړنه لاندې درې برخې لري:

۱ـ هغه موندنې چې له بېلابېلو سرچینو؛ لکه مرکې، کتنو او اسنادو څخه په لاس را ځي.

۲ـ هغه لارې چارې او میتودونه چې د موندنو د شننې او همغږۍ په برخه کې کارول کېږي؛ لکه د مفاهیمو څېړنه او د موندنو د حجم کمول، د مقولو جوړښت او د مفاهیمو د شبکې منځته را وړل.

۳ـ د را پور (ګزارش) وړاندې کول.

ادامه...

## فرهنګي او ادبي...

دغه راز د مخکتنې په مراسمو کې د دغه کتاب ژباړونکي جواد نیوش وویل: سره له دې چې "فیه مافیه" د مولانا هغه تقریرونه دي چې نورو لیکلي دي؛ خو په عین حال کې دا پوخ، ټینګ او روان نثر دی او کېدای شي د اومې پېړۍ د صوفیانه پارسي د نثر بېلګه وګڼل شي.

"فیه مافیه" هغه یاداښتونه دي چې په شاوخوا ۳۰ کلونو کې د مولانا ویناوې رانغاړي. په دغه کتاب کې مولانا د عرفان او تصوف مسایل بیان کړي دي او نورو هغه یادداښت کړي دي او په پای کې له تصحیح او تحقیق وروسته په ۷۰ لنډو فصلونو کې د "فیه مافیه" په نامه د کتاب په بڼه جوړ شوی دی.

د څېړونکو د څرګندونو له مخې، دغه کتاب د مولانا له مړینې وروسته، د هغه شاګردانو او مریدانو "فیه مافیه" نومولی دی.

## د پښتو ژبې یو هېر...

د خپل پښتون او افغان ولس غمونو، دردونو، ټپونو، خواریو، ورانیو او ویجاړیو ته یې په کې په ډېره ژوره پښتني مینه ځای ورکړی دی.)) (۳)

په رښتیا چې پامیر د خلکو شاعر و، د ټولنې شاعر و، ملي شخصیت یې درلوده، د خپلې ټولنې او ولس خواخوږی، په هېواد، خلکو او آزادۍ مین و. تل یې د خپل ولس د حق او حقونو د لاسته راوړلو لپاره یې خپل غږ اوچت کړی و.

د معاصرې دورې دغه ادبي، فرهنګي او ملي شخصیت د ملي احساس او درک خاوند و، تل یې د خپلو خلکو د هوښیارۍ او بیدارۍ په خاطر ډېرې سیاسي، ادبي او فرهنګي لیکنې کړې دي. تل یې وطني او ملي شعرونه ویلي دي، د ده د شعر یوه ځانګړنه دا ده چې دی د ولس او خلکو شاعر و، په شعرونو کې یې د ولس لاس نیولی او د ولس د خپلواکۍ او آزادۍ په باره کې شعرونه ویلي دي، د ده د شعر غوره او مهم ارزښت په دې کې دی چې نوموړی ملي حقونه یادوي او د هغو د لاس ته راوړو لپاره هلې ځلې کوي او خپل غږ په دې ډول پورته کوي.

**دا دنیا دغه یې حال او دایې روزګار دی**
**څوک کاندي غلامي او باداري د ځینو کار دی**
**څوک د حق په لاره درومي شهیدانو هدیرې ته**
**څوک ناست وي په کرسۍ کې بادارانو امرېې ته**
**زما و ستا منځ کې موجود یو لوی توپیر دی**
**زه عاشق د آزادۍ یم خو اجنبي د ستاسو پیر دی**

د ده په شعرونو کې لوستونکی او اورېدونکی په آسانۍ سره هغه څه درک کولی شي چې له ټولنیز ژوند سره تړاو لري او هغه څه موندلی شي، چې یو په آزادۍ او خپلواکۍ مین قام د خپلو روا حقونو د تر لاسه کولو لپاره څومره ظلمونه، نادودې او ناروا زغمي او د دښمن هر ګزار ته له خپلو سرونو څخه سندان جوړوي.

**پایله**

محمد اکبر پامیر د معاصرې دورې یو تکړه لیکوال، شاعر، عالم، حقوقپوه، ژورنالیست، سیاسي، ملي او فرهنګي په آزادۍ مین شخصیت و، استاد پامیر د خپل عمر په اوږدو کې ډېر آثار لیکلي دي. استاد په فارسي ترکي او فرانسوي ژبو پوهېده او په پارسي ژبه یې هم حقوقي آثار لیکلي دي. ده په خپلو لیکنو کې حقوقي مسایل ډېر راوړي دي.

پامیر ډېرې ډرامې هم لیکلي دي. د ده ډرامې انتقادي بڼه لري، چې د وخت عمده او مهم مسایل په کې ځای شوي دي.

پامیر یو آزاد طبعیته او په آزادۍ او خپلواکۍ مین شخصیت و، د ده په شعر او ډرامه کې د آزادۍ روحیه ډېره ښه روښانه شوې چې په لوستونکو او اورېدونکو کې د آزادۍ روحیه را پاروي او ملت د آزادۍ له ګټو او ښېګڼو خبروي.


ماخذونه

۱- عارف غروال، محمد اکبر پامیر د یو تجربه کار استاد او وتلي لیکوال په توګه، د پامیر یاد، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۸۵ لمریز کال ۹۹ مخ.

۲- عبدالروف بېنوا، اوسني لیکوال، لومړی ټوک، د مطبوعاتو مستقل ریاست، ۱۳۶۰.

۳- علي محمد منګل، د محمد اکبر پامیر په استعاره کې د ادبي فنونو وړانګې، د پامیر یاد، ۱۳۸۵ لمریز کال، ۱۱۴ مخ.


## ادب؛ د ژوند...

ارزښته دې انکار وکړي. ارسطو ادبیاتو ته هنر وایي، ځینې ورته د الفاظو هنر وایي، خو نننی ریفورمیستان ورته علم وایي، خو سیمیون دوبوار وایي: ((ادبیات هغه هڅې دي چې د انسانانو لخوا انسانانو ته تر سره کېږي او موخه یې دا ده چې نړۍ انسان ته وروښودل شي او دغه ځرګندول خپله عمل دی؛ نو ادبیات یعنې عمل.)) (۳)

ولې ځینې ټولنې تیتې دي؟ ځواب یې همدا دی چې دوی د ادبیاتو له ارزښته انکار کړی دی او اهمیت ته یې تسلیم شوې نه دي. د دا ډول ټولنو د وګړو ذهنونه په خپلو نظرونو باندې تور او ډک شوي دي او دا بحث ورته نامنطقي او بې ځایه ښکاري؛ لکه د نورو علومو په څېر ادب ته یې هم میلان نه شته او خپل دا اختلاف د ژوند لپاره ارزښتمندوي، لیکنه او لیکوال یې د خپل زور پرمټ په ستوني کې زندۍ کړی وي. ځینې دودونه، دستورونه او رسمونه که لري او ترسره کوي، نو په ارزښت او معناوو یې نه پوهېږي چې له امله یې د استعمال چاره هم ژوند ته ګواښ پیدا کوي؛ لکه په وړو- وړو ستونزو چې په خبرو او فکر حل کېدای شي، خو دوی له دې پړاو نه تېر او د ننګ او غیرت په نوم یې حل په ټوپک کې ګوري او له یاده باسي چې کومه غوټه چې په لاس پرانیستل کېږي، خولې ته اړتیا نه شته؛ دوی یې وار د واره خولې ته وړي چې وروسته یې بیا پرې خپل غاښونه وځي. دوی په روانې، ټولنیزو او د کلتور د روایاتو په رښتینولۍ نه دي خبر او پرته له پوهې یې ورته غاړه ورکړې ده چې له امله یې خپله غاړه هم څیرې او دستورونه او کلتور یې هم بربنډ کړی دی، ځکه چې د ښکلا جامې یې ترې ایستلي دي. خپل بې ځایه لوړ خیالات، تصورات او نظرونه یې ایمان ګڼلی دی او په دې هوډ سره راټول شوي دي چې د بل هیڅا خبرې او قلم ته به غوږ نه ږدي، نو دلته به څنګه نظرونه چې شمېر یې د ټولنې د نظرونه په پرتله په نشت برابر وي، پر نورو نظرونه بریالیتوب تر لاسه کړي؟ دا ټولنیز نظرونه په خپله غېږه کې واخلي او د سمې لارې د تللو لارې ګودرې ورته وښیي؟ د دې چارې د ترسراوي لپاره طریقه څه ده؟ د ځواب لپاره د ټولنې پوهان د غور او فکر ټکي په ادبیاتو راچورلي او د پورته ستونزو حل لاره پر ادبیاتو ټاکي. ځکه په دې ډګر کې لیکوال کولی شي، یاد پرابلم ته د پای ټکی کېږدي، ارزښتونه په ډاګه کړي او د خلکو په ژوند کې د خوښۍ لمحې راپیدا کړي، دا داسې محکمه ده چې د هر چا آزادي برابروي او د ژوند واک ورکوي، دلته عادلانه وېش کېږي او ټولو ته د حقوقو د ترلاسه کولو حق ورکول کېږي. لیکوال راګیر ژوند ته په نېغه او سمه لاره د تګ چاپېریال جوړولای شي چې د شته ستونزو برجونه ونړوي او په ستونزو کې ګیره ټولنه خلاصون ومومي او د داسې ټولنې د جوړښت ستنې ټینګې کړي چې ژوند پکې ارامه او د بریالیتوب او پرمختیا په لور خوځښت پیل کړي.

((ادب یا ادبیات هغه خبرې دي چې د عادي خبرو څخه اوچتې او لوړې وي او خلک دا خبرې په خپلو منځو کې ساتي، یو او بل ته یې لېږدوي او له لوستلو او اورېدلو یې بدلون مومي او د غم، ښادۍ او یا خوند احساس ورکوي ...)) (۴)

د ادب له کبله به په پایله کې پر انساني اړیکو ولاړه ټولنه ولرو او نورو ټولنو ته به د انسانیت بېلګه وړاندې کړو، د ټولنې وګړي به د داسې ښوونځي له فکر او پلان نه آزاد وي، کومې چې د ټولنې پرمختیا ته خنډونه اچوي. په انسان کې دا تېز بدلون چې انسانیت ګڼل کېږي، ادبیاتو راوستی دی، ادبي پنځونو، څېړنو او څېړنیزو نظرونو داسې تولنې ته فکري مواد برابر کړې دي چې له امله یې د اورېدونکي او لوستونکي په ذهن داسې اغېزه کوي چې په اورېدلو، خبرې کولو او فکر کولو کې د لیکوال نظر ته هم برخه ورکوي او د احساس، شعور او فکري بنسټونو ارزښت ته یې قایل دي، دلته بیا د اظهار او فکر د یووالي زمینه هم برابرېږي او هغه کار چې اسانه نه و، ادب یې په بې ستونزې بڼه شونی کوي.


**مأخذونه**

۱. شمسي، محمد ناصر. ادب برای تبدیلی، اجرا (سه ماه ادبی رساله)، کراچي: ۲۰۱۴ز کال.

۲. زغم، احمد شاه. معاصره لیکوالي، د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه، ۱۳۹۴ل کال، ۷ مخ.

۳. قاسمي، شیما. [ادبیات]، [http://www.civilica.com/Paper-NCNRPL01].

۴. زرین کوب، عبدالحسین. آشنایي با نقد ادبي، سخن خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۴ل کال، ۲۵ مخ.


## د پښتو او شغناني ژبو...

**نوټ:** البته دغه قاعده هم استثناأت لري او مطلقه نه ده؛ مثلاً که و وایو: ښکلې هلک، د دغه ترکیب د جمعې بڼه په دې ډول ده: ښکلي هلکان، په دې ترکیب کې بیا صفت د خپل موصوف لپاره د لومړۍ کټګورۍ خلاف د عدد له مخې ګردان شو.

۲ـ هغه ډله صفات چې د مونث جنس له موصوف سره د عدد له پلوه بشپړ سمون لري. (۲: ۲۰۳مخ)، لکه:

مفرد ـــــــــــ جمع
سپینه تخته ـــــ سپینې تختې
سره څوکۍ ـــــ سرې څوکۍ

**په پښتو او شغناني ژبو کې د ستاینوم ډولونه:**

الف ـ د جوړښت له مخې: ستاینوم د جوړښت له مخې په دوو ډولونو وېشل کېږي: ۱ـ ساده ستاینوم: هغه ستاینوم دی چې له یوه جز څخه جوړ شوی وي، شغناني: (xub خُب) په پښتو کې غټ یا ښه په معنا، bašānd بشاند (خوب، ښه)

۲ـ مرکب ستاینوم: هغه ستاینوم دی چې له دوو یا زیاتو اجزاوو څخه جوړ شوی وي، په شغناني ژبه کې مرکب ستاینوم ډېر ډولونه لري چې ځینې یې دا دي:

۱ـ هغه مرکب ستاینوم چې له دوو نومونو څخه جوړ شوی وي، لکه: maz̆ zem مږ ځېم(میش چشم).

۲ـ هغه چې له دوو یو شان نومونو څخه جوړ شوی وي؛ لکه rāng rāng (رانګ رانګ)، یعنې (رنګ رنګ).

۳ـ هغه چې له یوه نوم او یوه صفت څخه جوړ شوي وي، bilānd qād بلند قاد (بلند قد).

۴ـ هغه چې له یوه نوم، د اضافت له توري او له یوه بل نوم څخه جوړ شوی وي؛ لکه kāl tar kāl کال تر کال( سر به سر) یا:cem tar cem څېم تر څېم (چشم به چشم).

۵ـ هغه ډله صفات چې د عدد، معدود او ( inj اینج) وروستاړي له ترکیب څخه جوړېږي، لکه:yi meθ inj یي مېثینج (یو ورځنی، یک روزه).

۶ـ هغه ډله صفات دي چې د ستاینوم له تکرار څخه منځ ته راځي؛ لکه ter ter تېر تېر (تور تور) (۱: ۱۸۸مخ)

مګر په پښتو ژبه کې د ستاینوم له تکرار څخه قید جوړېږي؛ مثلاً صفت + صفت= قید/ ṣkwalay +ṣkwalay =ṣkwalay ،ṣkwalay (ښکلی ښکلی)

په پښتو ژبه کې هم ستاینوم د جوړښت له مخې پر دوو ډولونو وېشل کېږي:

الف) ساده ستاینوم: هغه دي چې یواځې له یوه توک څخه جوړ شوی وي؛ لکه اباد، اتل، ارام، بد، ښه او...

ب) ترېښتي ستاینوم (ترکیبي ستاینوم): هغه ستاینوم ته ویل کېږي چې د مختاړو او روستاړو په مرسته جوړېږي، دا ستاینوم له څو لارو نه جوړېدلی شي؛ لکه

۱ــ د مختاړو د یوځای کولو له لارې د ستاینوم جوړول؛ لکه ناخرګند، ناروغ... په دغو بېلګو کې ((نا)) د ترېښت ستاینوم په جوړښت کې د مختاړي دنده ترسره کړې ده.

۲ــ د وروستاړو د یو ځای کولو له لارې د ستاینوم جوړول؛ لکه سوربخن، ژېړبخن او...

**نوټ:** ځینې توصیفي ترکیبونه د نوم او صفت له یو ځای کېدو څخه جوړېږي، په پښتو ژبه کې توصیفي ترکیبونه د جوړښت له مخې دغه ډولونه لري: (صفت+اسم) (نوم+ نوم) (نوم+ صفت) (فعلي صفت+ نوم)؛لکه (تللي وختونه).

**ستاینوم د معنا له مخې**

په پښتو او شغناني ژبو کې ستاینوم د معنا له مخې په مقایسوي(پرتلیز)، نسبتي، عددي، مبهم او اشاروي ستاینومونو وېشل کېږي چې موږ به یې دلته یواځې په پرتلیز ستاینوم بحث وکړو.

پرتلیز ستاینوم: په شغناني ژبه کې صفت د مقایسې له مخې څلور درجې لري: ۱ـ عادي صفت ۲ـ عالي صفت ۳ـ تفضیلي صفت ۴ـ عالي ترین صفت، مګر په پښتو ژبه کې بیا دغه ستاینوم په دوه ډوله دی: ۱ـ عادي ستاینوم، ۲ـ پرتلیز ستاینوم.

۱ـ عادي ستاینوم: په دواړو ژبو کې هغه صفت ته ویل کېږي چې موصوف له کوم بل شي سره نه وي پرتله شوی او په عادي ډول په یوه نحوي چاپېریال کې د یوه نوم ستاینه وکړي؛ لکه سراج ښه هلک دی./ په دغه جمله کې په عادي ډول د ((سراج)) ستاینه شوې ده چې د ((ښه)) ویی پکې عادي ستاینوم دی. په شغناني ژبه کې غلا (بزرګ)...

پرتلیز(مقایسوي) ستاینوم: هغه ستاینوم دی چې په پرتلیز ډول د یوه نوم ستاینه کوي، څرنګه چې په پښتو ژبه کې ستاینوم د لوړتیا درجې نه لري؛ نو دغه کار د اداتو او ځینو قیدونو (لا، تر، خورا، زښته ډېر...) په ملتیا تر سره کېږي؛ لکه احمد تر زلمي ډېر هوښیار دی.

۲ـ تفضیلي صفت: هغه صفت دی چې موصوف په کې له ډېرو شیانو سره پرتله کېږي، د دغه صفت د جوړولو لپاره په شغناني ژبه کې د di وروستاړی راځي؛ مثلاً kārim az ali zul-di (کریم از علي ځلدي)، ژباړه: کریم له علي څخه ډېر کوچنی دی. مګر دغه کار په پښتو ژبه کې د وییکو او اداتو(له، څخه، نه، لا...) په مرسته ترسره کېږي؛ مثلاً دا خټکی لا خوږ دی. اوسپنه له ډبرې څخه درنه ده.

په لنډ ډول ویلی شو چې د پښتو او شغناني ژبو د تفضیلي ستاینوم فرق دا دی چې: په شغناني ژبه کې د تفضیلي صفت علامه د عادي یا اصلي صفت په پای کې راوړل کېږي؛ مګر په پښتو ژبه کې ادات له صفت څخه دمخه راځي.

۳ـ عالي صفت: په شغناني ژبه کې دغه صفت د دوو وروستاړو (دردي او ددي didi, dardi) په مرسته جوړېږي؛ یعنې کله چې د دغو دوو وروستاړو څخه یو یې د عادي ستاینوم په پای کې راشي عالي صفت نومېږي؛ مثلاً salim lāyiq dardi ṣāgird (سلیم لایق دردي ښاګرد) ژباړه: سلیم لایق ترین همه شاګردان است.

۴ـ عالیترین صفت: دغه صفت هم د پښتو خلاف په شغناني ژبه کې شته او د (aki,yaki) روستاړو په مرسته جوړېږي؛ لکه salim lāyiq_aki ṣāgird (سلیم لایقکي ښاګرد)، ژباړه: سلیم له ټولو شاګردانو څخه لایق دی.(۱: ۴۰۰مخ)

په پښتو ژبه کې صفت د لوړتیا درجې نه لري، لکه په دري ژبه کې (به، بهتر، بهترین) له همدې کبله په پښتو ژبه کې یو صفت د اداتو په ملتیا خپله درجه څرګندوي. (۲: ۲۰۳مخ)

په پای کې په لنډ ډول ویلی شو چې په پښتو او شغناني دواړو ژبو کې صفت له خپل موصوف څخه دمخه راځي، دغه راز په شغناني ژبه کې صفت د جنس کټه‌ګوري نه لري، نو ځکه په کې د صفت او موصوف مطابقت نه لیدل کېږي، یعنې په شغناني ژبه کې صفت د مفرد او جمع، نارینه او ښځینه دواړو لپاره یو ډول راځي چې لازم مطابقت پکې نه لیدل کېږي، مګر په پښتو ژبه کې ستاینوم د نوم، په بڼه پسې ځي، که نوم نارینه، ښځینه، مفرد او یا هم جمع وي، ستاینوم هم همغه شان بڼه ځانته اختیاروي چې پورته پرې لازم بحثونه وشول.

په پښتو ژبه کې اصلي(نه ګردانېدونکي) قیدونه د اسم او صفت په توګه نه شي راتلی؛ لکه پرون، نن، سبا، اخوا، باندې او... خو غیر اصلي (ګردانېدونکي) قیدونه اکثره وخت په یوه نحوي چاپېریال کې څرګندېدای شي. په دغه ډول چاپېریال کې اسم، قید او صفت یو په بل اوړون کولی شي؛ لکه ښکلی- ښکلی، دروند- دروند او... دغه ډول قیدونه د ستاینوم له تکرار څخه منځته راځي.


**مأخذونه:**

حیدري، خیرمحمد. دستور مقایسی زبانهای شغنانی ـ روشانی و پښتو، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۶ل کال، ۱۸۸ـ ۴۰۰مخونه.

خویشکی، محمد صابر. پښتو معاصر ګرامر، جهان دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۵ل. کال، ۲۰۲، ۳۳۲مخونه.

نیازی، رفیع الله. د اندو- اروپایي ژبو نسبي څېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، څوارلسمه صنعتي مطبعه، ۱۳۹۸ل کال، ۳۰۱مخ.

# زېری

علمي-څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر نظر لاندې
مسؤل مدير: څېړندوی احسان الحق
مهتمم: څېړنيار ياسرپاچا
د يوې گڼې بيه: پنځه افغانۍ

د اړيکو شمېرې: ۰۷۴۴۴۸۷۳۳۵
۰۷۰۴۹۸٦۰۳۳
برېښناليک: zerai1316@gmail.com
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار
کابل—افغانستان

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارگان

• په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پر غاړه دی.

د ۱۳۹۹ ل.کال لیندۍ(قوس) میاشت | ۱۷-۱۸مه گڼه | پرله پسې ۳٦۱-۳٦۲مه گڼه


## د پښتو او شغناني ژبو د ستاينوم پرتلنه



څېړنيار ياسرپاچا

پښتو د اندو- اروپايي ژبکورنۍ د اريک ژبښاخ د (آرياني) څانگې د معاصرې دورې شمال ختيځه ژبه ده. شغناني ژبه هم د اندو - اروپايي ژبکورنۍ د اريک ژبښاخ د (آرياني) څانگې د معاصرې دورې په شمال ختيځو ژبو کې يوه پاميري ژبه ده چې د خاروغ ښار، د شغنان په شاوخوا سيمو، د تاجيکستان د شاه درې په اوړدو او د افغانستان د پنج رود په لوېديځو غاړو کې ويل کېږي. دغه ژبه تاجيکستان ته څېرمه خوا کې درې گړدودونه لري:
۱- د بجو گړدود ۲- د شهدرې گړدود ۳- د برواز گړدود. د بجو لهجه په ځينو څېړنو کې ځانگړې پاميري ژبه گڼل شوې، خو کومه ځانگړې پاميري ژبه نه ده؛ بلکې د شغناني ژبې يو گړدود دی.(۳: ۳۰۱مخ)

د ژبو مقايسوي پرتلنه هغه مهال شونې ده چې څېړونکی په دواړو ژبو لاس‌برى وي. په هر حال، د دې موضوع د څېړنې پر وخت مې د شغناني ژبې له تکړه څېړونکي سره مشورې او بحثونه لرل او د هغه په مرسته مې دا ليکنه بشپړه کړه. په دې مقاله کې د پښتو او شغناني ژبې د ستاينوم لنډه پرتليزه څېړنه شوې او په کې څرگنده شوې چې د پښتو په پرتله په شغناني ژبه کې تر ډېره بريده د صفت او موصوف مطابقت نه ليدل کېږي

ستاينوم هغه کلمه ده چې د يوه نوم حالت، څرنگوالی، کيفيت او اندازه بيانوي. ستاينوم خپل دريځ په يوه توصيفي چاپېريال کې روښانه کوي، که چېرې توصيفي چاپېريال رامنځته نه شي، نو صفت هم نه شي رامنځته کېدلی. که چېرې ووايو (تور قلم)، نو (تور) ستاينوم دی او (قلم) نوم چې د موصوف په بڼه ظاهر شوی دی، خو که چېرې ځانته د (تور) کلمې ته صفت ووايو، نو تېروتنه به مو کړې وي، ځکه چې دا مورفيم په ځانگړي ډول نوم دی او د انسان په ذهن کې يو رواني تصوير لري، له پورته لازمو او اړينو څرگندونو وروسته اصلي موضوع ته راگرځو.

**الف: په پښتو او شغناني ژبو کې د صفت او موصوف مطابقت:**

۱ـ په پښتو او شغناني دواړو ژبو کې صفت له خپل موصوف څخه دمخه راځي؛ مثلاً په شغناني ژبه کې biland diraxt او په پښتو ژبه کې( لوړه ونه) چې په دواړو ژبو کې صفت له خپل موصوف څخه دمخه راغلی دی.

۲ـ په شغناني ژبه کې صفت جنسي کتگوري نه لري، نو ځکه په کې د صفت او موصوف مطابقت نه ليدل کېږي؛ مثلاً bašānd kitób بشاند کتاب (ښه کتاب)، bašānd kitóben بشاند کتابېن (ښه کتابونه)، په پورته بېلگه کې bašānd صفت د مفرد او جمعې لپاره يو شان کارول شوی دی، يعنې په شغناني ژبه کې صفت د مفرد او جمع دواړو لپاره يو ډول راځي چې لازم مطابقت نه لري.

مگر په پښتو ژبه کې ستاينوم د نوم، په بڼه پسې ځي، که نوم نارينه، ښځينه، مفرد او يا هم جمع وي، ستاينوم هماغه شان بڼه ځانته اختياروي؛ لکه

شين‌غر ـــــ شنه‌غرونه
شنه دره ـــــ شنې درې
ښکلی هلک ـــــ ښکلي هلکان

په ټوليز ډول په پښتو ژبه کې صفت له خپل موصوف سره د جنس، عدد او حالت له مخې لړ او ډېر گردانېږي چې ياد گردان په مجموع کې په دوو کټگوريو کې ډلبندي کولای شوو:

۱ـ هغه ډله صفات چې د خپل موصوف (مذکر جنس) سره د عدد له پلوه بشپړ سمون نه لري؛ لکه

مفرد ـــــــ جمع
تور قلم ـــــــ تور قلمونه
بدرنک هلک ـــ بدرنگ هلکان***۳مخ***

## د فرهنگي او ادبي خبرونو پېښليک



څېړنوال محمد آصف احمدزی

### «د استاد شپون د آثارو مخکتنه»

په بلخ پوهنتون کې د لیندۍ پر ۹مه د استاد شپون د کتابونو مخکتنه وشوه. دا کتابونه په علمي او ټولنيزو چارو کې د ولسمشر د ستر سلاکار پوهاند ډاکټر لعل پاچا ازمون په زيار راټول او چاپ شول.

په دې ناسته کې چې استاد ازمون هم گډون کاوه، خو د هوا د خرابوالي له کبله چې الوتنه وځنډېده گډون ونه شو کړای.



د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني هم هيله درلوده چې په دې غونډه کې گډون وکړي، خو د ځينو نورو اړينو کارونو له کبله يې ونه شوای کړای په خپله ورشي؛ نو استاد ازمون يې پيغام د ټليفون له لارې واوراوه .

ولسمشر په خپل پيغام کې وويل: ((استاد شپون نثر ته ډېر کار کړی او يو ښه داستان ليکونکی دی. استاد سعدالدين شپون زموږ يو له هغو ليکوالو څخه دی چې ليکنې يې د خوند او رنگ په طنازه ژبه د هېواد ارزښتونه راپېژني، نسلونه په ملي روحيه روزي، په خپلو خلکو او هېواد مو لاس په لاس گرځوي، ژوند راښيي، د ژوند په خوږو مو پوهوي، ټولنې ته د پرمختگ او ژوند فکر ورکوي.

د استاد په داستاني اثارو کې هغه خزانې نغښتې چې د هرې زمانې نسلونو ته معنوي ارزښت لري. له تېر ژوند سره يې بلدوي، د تېر ژوند په خوږو کې يې ور گډوي. کله چې هم د استاد داستاني اثار لولو، نو فکر کوو چې د وطن تړې، غرونه، سيندونه، ځنگلونه او بېلابېل ارزښتونه لولو او د تخيل په وزرو پرې گرځو.

د استاد نظم او نثر دواړه شاعرانه ښکلا لري. په شعر کې يې هم د عظيم قلم له نوکې خواږه اوربدلي دي. په ادبي بحثونو ، څېړنو او ليکنو کې يې د ادب روح را پېژندلی دی. استاد په ټوله کې د ښکلا پېژندنې د يو استاد قلم څښتن و.))

په دې غونډه کې ډاکټر ازمون هم وينا وکړه او ويې ويل چې استاد شپون يو پياوړی ليکوال و، يو ځانگړی کس و او همدا لامل دی چې کتابونه يې راټول او خپاره کړل.

### جوزجان پوهنتون کې د فولکلوري او اساطيري ارزښتونو په اړه ليکچر وړاندې شو

په علمي او ټولنيزو چارو کې د ولسمشر ستر سلاکار پوهاند ډاکټر لعل پاچا ازمون د جوزجان ولايت په پوهنتون کې د فولکلوري او اساطيري ارزښتونو په اړه د لیندۍ پر ۱۰مه ليکچر وړاندې کړ.

د جوزجان پوهنتون د کنفرانسونو په تالار کې دې ناستې ته د ياد پوهنتون گڼ شمېر محصلان او استادان راټول شوي وو او استاد ازمون دوی ټولو ته د فولکلوري ارزښتونو د راټولولو لارې چارې وښودې او



ضمناً يې دوی ته دنده وسپارله چې هر څوک دې په خپله ژبه پښتو، درې، ازبکي، ترکمني او ... د خپلو سيمو فولکلوري ادبيات او کلتوري ارزښتونه په ليکلې توگه خوندي او تر نورو ورسوي.

### د ((سولې ادبياتو)) لومړۍ ناسته جوړه شوه

د سولې د ادبياتو د لړۍ لومړۍ ناسته د سولې په چارو کې د دولت وزارت لهخوا د لیندۍ پر ۱۲مه جوړه شوه، چې په کې د دغه وزارت چارواکو او يو شمېر شاعرانو او اديبانو گډون کړی و.

په دغې ناسته کې لعل‌پاچا ازمون په پښتو ادبياتو کې، قنبر علي تابش په معاصرو فارسي ادبياتو کې او



محمد عالم کوهکن په اوزبکي شعرونو کې د سولې پر مقام خپلې ارزونې شريکې کړې.

دغو ويناوالو وويل، د هېواد د دغو درېوو ژوندیو ژبو په ادبياتو کې د سولې ځلاوې نه يواځې نوې نه دي، بلکې اړتيا نشته په ادبياتو کې د سولې د موضوعاتو په لټه کې وو؛ ځکه ادبيات په خپله سوله ده او که ليکوال د جگړې پر موضوعاتو هم غږېږي، موخه يې سوله وي.

په عامه پوهاوي کې د تفريحي ادبياتو رول د نجيب‌الله منلي د بحث موضوع وه. ده په دې برخه کې د رسنيو پر رول ځانگړی ټينگار وکړ او ويې ويل، متأسفانه رسنۍ تر ډېره د جگړې او تاوتريخوالي پر خبرونو چورلي؛ په داسې حال کې چې اړتيا ده دوی بايد خپل پروگرامونه د ټولنې د اړتياوو پر اساس تنظيم کړي او خپل روزنيز رول هم ادا کړي.

د سولې د ادبياتو په لومړۍ ناسته کې د خالدې تحسين، مجيب مهرداد، فروزان کريمي، صديقې افضلي، سيد جيلاني جلان، شايان فريور، سيد بهادر واصفي او سيد ظاهر موسوي په گډون د هېواد څو شاعرانو خپل شعرونه واورول.

سرچينه: https://tinyurl.com/y5m8t9xf

### ادبيات، فولکلور او مشاعره

د شمال خلکو عنعنوي اصلاحي جرگه په ټولنيزو او علمي چارو کې د ولسمشر سلاکار پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون او د پښتو ادبياتو د يو شمېر استادانو کوربه و.

دغه پرتمينه غونډه چې د عبدالستار اسحق‌زي فکري بنسټ د غونډو په تالار کې د لیندۍ په ۱۲مه ترسره شوه، د بلخ ولايت مقام اداري او مالي مرستيال استاد پوهنوال غلام فاروق خپلواک په گډون قومي مشرانو، د بلخ پوهنتون د ادبياتو پوهنځي استادانو،



بېلابېلو فرهنگي ټولنو او قومي شوراگانو استازو گډون درلود.

د غونډې لومړۍ برخه د ادبياتو په اړه آزاد بحث، دويمه برخه کې پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون د فولکلور او د فولکلور په ارزښت خبرې وکړې، په درېيمه برخه کې مشاعره وشوه او په څلورمه برخه کې د شمال خلکو عنعنوي اصلاحي جرگې رئيس محمد حسين اسحق‌زي له خوا راغلو مېلمنو ته د افغان کلتور په دود د اعزاز چپنې ور په اوږه کړل شوې او همدارنگه د راه سعادت خصوصي پوهنتون د پښتو څانگې استاد محمد ظاهر ستانکزي له خوا د پښتو ژبې يو نايابه دېوان چې د حسين خان له خوا تدوين شوی او اوس په کتابتونونو کې نشته، ډاکټر لعل پاچا ازمون ته يې ډالۍ کړ.

سرچينه: https://www.facebook.com/socialandacademic

### د پټې خزانې د ۳۰۰مې کاليزې په مناسبت د پروفيسور سيال کاکړ په اړه علمي- څېړنيز سيمينار

د پټې خزانې د ۳۰۰مې کاليزې په مناسب د لیندۍ پر ۱۸مه د سې شنبې په ورځ کندهار پوهنتون کې د فولکلور د مخکښ څېړونکي او ليکوال پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ په اړه عملي - څېړنيز سيمينار ترسره شو.



په پيل کې د ولايت مقام مالي او اداري مرستيال فيصل شېرزي د پروفيسور سيال کاکړ په اړه د جمهور رئيس محمد اشرف غني پيغام ولوست چې په کې ويل شوي و: اروانښاد سيال کاکړ د سيمې له هغو ليکوالانو او څېړونکو څخه دی چې د خپل وخت په ډېرو لږو امکاناتو يې ډېر علمي او ادبي کارونه ترسره کړي دي. سيال کاکړ د پښتني فولکلور، ادب او ژورنالېزم په برخه کې کلونه- کلونه څېړنې کړې دي او له همدې امله په افغاني علمي حلقو کې ځانگړی ځای لري، چې خدمتونه او لاسته راوړنې به يې کله هم له پامه ونه غورځول شي.

وروسته د پوهنتون يو شمېر مسؤلينو، استادانو، څېړونکو، ليکوالانو او فرهنگيانو د سيال کاکړ پر ژوند، فن، نثر، ادبي او فرهنگي هڅو او اثارو خپلې ليکلې مقالې ولوستې.

### کندهار کې فرهنگي ماښام او نندارتون جوړ شو

په کندهار کې د فرهنگي اونۍ نمانځلو په مناسبت فرهنگي ماښام پروگرام د لیندۍ پر ۱۸مه ترسره شو.

د فرهنگي اونۍ نمانځلو په مناسبت بېلا بېل مهم او اړين فرهنگي او ادبي پروگرامونه ترسره شول. له يادو پروگرامونو څخه يو هم فرهنگي



ماښام و چې د کندهار محلي سندرغاړو سندرې په کې ووېلې او تمثيلي پارچې يې وړاندې کړې.

په فرهنگي ماښام کې هم د نورو پروگرامونو په څېر د اطلاعات او فرهنگ وزارت څخه راغلي پلاوي، ځوانانو او لسگونو د کندهار اوسېدونکو گډون کړی وو.



همدارنگه د چهارشنبې په ورځ (د لیندۍ ۱۹مه) د کندهار د اطلاعاتو او فرهنگ رياست کې د فرهنگي اونۍ د نمانځلو په مناسبت انځوريز او صنعتي نندارتون پرانيستل شو، چې پر مهال يې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت مرستيال پوهاند رسول باوري، د جمهور رئيس سلاکار زرين انځور، استاد حبيب الله رفيع او زيات شمېر اديبانو او فرهنگپالو شخصيتونو حضور درلود.

په فرهنگي چارو کې د جمهور رئيس سلاکار زرين انځور بيا کندهار زاړه ښار کې د نارنج تاريخي ماڼۍ د سپړنو يادونه وکړه او په خبره يې د شاه حسين هوتک د دربار نښې نښانۍ د نارنج ماڼۍ وروستيو سپړنو کې موندل شوې او د هغه وخت فرهنگي ميراثونه په لاس ورغلي او دا ورته ثابته شوې چې د شاه حسين هوتک دوره يوه فرهنگي دوره وه.

### رهنورد زرياب ومړ

د درې ژبې نامتو ليکوال محمد اعظم رهنورد زرياب د ورپېښې ناروغۍ له کبله د ۱۳۹۹هـ. ش کال د لیندۍ پر ۲۱مه (د ۲۰۲۰م کال د ډسمبر ۱۱مه) د جمعې ورځې په سهار د ۷۷ کلنۍ په عمر ومړ.



نوموړي له سلو ډېرې لنډې کيسې او څو رومانونه ليکلي او هم يې د تصوير په نوم د کيسو يوه ټولگه روسي ژبې ته ژباړل شوې ده.

### د پشه يي- پښتو قاموس مخکتنه وشوه

په اطلاعاتو او فرهنگ وزارت کې د پشه يي – پښتو قاموس مخکتنه د لیندۍ پر ۲٦مه وشوه. دغه قاموس نورمحمد غمجن تميل ليکلی او د پشه يي ژبې څه د پاسه ۱۰زره اصيل لغتونه له پښتو انډولونو سره راغلي دي.

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د خپرونو د چارو معين عبدالمنان شيواي شرق په دې غونډه کې وويل چې په افغانستان کې د فرهنگ تنوع د ژبو د بډاينې سبب کېږي چې پشه يي ژبه هم په کې شامله ده. د پشه يي – پښتو د قاموس چاپول د پشه يي ژبې د غوړېدو او بډاينې سبب کېږي.



نوموړي د سيمه ييزو ژبو پر ودې ټينگار وکړ او ويې ويل چې د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د دغو ژبو ودې او بډاينې ته ژمن دی.

د پشه يي– پښتو قاموس د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د بيهقي د کتاب خپرولو رياست په يو ټوک او څه د پاسه ۳۹۳ پاڼو کې چاپ کړی دی.

سرچينه: https://bakhtarnews.com.af/ps

### په پښتو د مولانا بلخي د آثارو ژباړونکي وستايل شول

په کابل کې د افغانستان د ستراتيژيکو مطالعاتو مرکز د لیندۍ پر ۲۷مه د «وصال جاودانه» په نوم د مولانا عرس کليزه ونمانځله. د دې پروگرام په بهير کې هغو پوهانو او مترجمينو ته چې د مولانا جلال الدين



بلخي آثارو په پښتو ژباړه کې يې برخه اخيستې وه، ځينو هغو، لکه مير احمد ياد، ډاکټر محب زغم، محمد اصف احمدزي، محمد ذاکر ذکي، کاينات... ته ستاينليکونه ورکړل شول.

### د مولانا د ((فيه مافيه)) پښتو ترجمې مخکتنه وشوه

د مولانا جلال الدين محمد بلخي د "فيه مافيه" کتاب د پښتو دوهمې ژباړې چې په دغو وروستيو کې له چاپه راوتلې ده، د لیندۍ پر ۲۷مه يې په اطلاعاتو او فرهنگ وزارت کې مخکتنه وشوه.




"فيه مافيه" کتاب د هېواد يو ځوان ژباړن محمد جواد نيوش په درېوو کلونو کې په پښتو ژبه ژباړلی دی چې د مولانا له تلين سره جوخت يې مخکتنه وشوه.

په دغو مراسمو کې يو شمېر ليکوالو، شاعرانو او فرهنگيانو د مولانا د "فيه مافيه" کتاب په باب خبرې وکړې. ***۲مخ***